جمهوری اسلامی افغـانستان
کمیسیون مستقل انتخـــابات

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د تـــاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۳۴- ۱۳۸۹ |
| موضوعګانې: | - د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د تصمیم تصدیقول د ۴ تنو نوماندانو محرومیت د نوماندۍ څخه.<br>- د ناظرینو ګمارل د رای اچونې مرکزونو او محلونو لپاره چې د کمیسیون د دارالانشاء د ارزیابې پر اساس د یو شمیر ستونزو لرونکې دي.<br>- د اسیا د ټاکنو مسولینو ټولنې له خوا د دوو کلونو (۲۰۰۸-۲۰۰۹) د عضویت حق ورکول.<br>- غوښتونکو ادارو ته د باور لیکونو ورکول. |
| سرچینه: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست. |
| وخت،تاریخ او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ل کال د وږي ۲۲ چې د ۲۰۱۰ز کال د سپتمبر له ۱۳ نیټې سره سمون خوري. د ټاکنوخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي: | ښاغلی فضل احمد معنوي، ښاغلی سترجنرال ایوب اصیل، ښاغلې مومنه یاري، ښاغلې مستوره ستانکزی، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي. |

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پراساس.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اجندا کې د دخیلو موضوعګانو پر هکله پریکړه کړې:

۱- د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پریکړې پر اساس د ۴ تنو هریو محمد افضل،ښاغلې شیما خروتي،مولوي محمد اصف او اسدالله حصارشاهي وال محرومیت د نوماندانې څخه د تصدیق او تایید وړدی.

۲- د کمیسیون دارالانشاء د علماوو ولایتي شوراو سره د تفاهم وروسته (۱۷۰) تنه ناظرین په نظر کې نیولي دي چې د ټاکنو په بهیر کې هغه مرکزونو ته چې ستونزې لري ګماري.

۳- د ټاکنو خپلواک کمیسیون د اسیا ټاکنو ټولنې ته د غړیتوب حق ندی ورکړی او باید د ۲۰۰۸څخه تر ۲۰۱۰ کلونو پورې د نوموړې ټولنې مسولینو ته وسپاري.

۴- د څرګندو اسنادو په نظر کې نیولو سره دې لاندې ذکر شویو ادارو ته باور لیکونه ورکړل شي.

- Danish یو بادنی خبریال؛
- مژده رادیویي شبکه؛
- اسیا تلویزوني شبکه؛
- د هرات ملي رادیو تلویزیون.

۵- په افغانستان کې د میشتوناتو ملکي نمایندګان چې نومونه یې ددې پریکړې سره یوځای د ټاکنو په ورځ د څانګړو میلمنو په حیث د رای اچونې مرکزونو او محلونو کې د کارتونه ورکړل شي.